دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

شهادت

اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

الهی فرمان

او هر څوک چې ونیسي شیطان دوست بې له الله نو په تحقیق ښکاره زیان یې وکړ، وعده کوي (شیطان) له دوی سره او په باطلو امیدونو کې یې غورځوي. او نه کوي وعده له دوی سره شیطان مګر په فریب، خای ددوی جهنم دی او نه به مومي دوی (شیطان تابعان) له دې دوزخه د تښتې هیڅ خای. (سورة النساء: ۱۱۹ - ۱۲۱)

نبوي ارشاد

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:
دوه وږي لیوان د وزو یوې رمې ته دومره نقصان نشي رسولې څومره چې د مال حرص او حسد د مسلمان دین ته نقصان رسوي، حسد د مسلمان نیکی داسې له منځه وړي لکه چې اور لرګې له منځه وړي. (ترغیب)

شهادت دویم کال، ۷۲ مه ګڼه، چهار شنبه ۱۳۸۹ هـ ل د تله ۷ مه د۱۴۳۱ هـ ق د شوال المکرم ۲۰ مه د۲۰۱۰ م د سپتمبر ۳۰ مه

د تښتول شوې بریتانوی د خلاصون په بدل کې د عافیې د خوشې کیدا غوښتنه

PROPERTY OF ACKU

تاند ویب پاڼه:
سره له دې چې د هغې بریتانوی په باب ،چې د یکشنبې په ورځ د کونړ د اسعد اباد او د ننګرهار د جلال اباد ترمنځ په لویه لار کې بې درکه شوه،تراوسه پوري طالبانو څه نه دي ویلي ، تاند ته په اردو ژبه په یوه استول شوي بریښنا لیک کې ادعا شوې چې دا بریتانوی د پاکستانی ډاکترې عافیې د خلاصون لپاره تښتول شوې ده.
د مجاهد په نوم په اردو ژبه په دې بریښنالیک کې ویل شوي چې بریتانوی مرستندویه لیندا د عافیې د خلاصون په بدل کې پر ښودلی شي.
په همدې حال کې د کونړ ولایت چارواکي وایي چې د تښتول شوې بریتانوی د موندنې لپاره هلې خلې کوي.
د کونړ والي والي سید فضل الله وحیدي پرون وویل د نور هڅو تر څنګ یوه جرګه جوړه شوې چې د پیښې په اړه څیړنې وکړي.
د پاکستان حکومت له امریکا غوښتني چې عافیه خوشې کړي ،دې هیواد همداراز ویلي چې د عافیې د خلاصون لپاره به هیڅ راز هلې خلې ونه سپموي.
بریتانیا تایید کړې چې یوه تبعه یې په افغانستان کې بې درکه شوې ده.
له بلې خوا د کونړ چارواکي وایي، وسلوالو مخالفانو په دغه ولایت کې د امریکا د نړیوالې پراختیایي اداري دا بریتانوی کار کوونکې له خپلو دریو افغان همکارانو سره تښتولې ده.
د کونړ امنیه قوماندان خلیل الله ضیایی د یکشنبې په ورځ وویل، میرمن لیندا چې د یو اس ایډ د کرنې په برخه کې کار کاوه، د کونړ او جلال اباد پر لویه لار وتښتول شوه.
د ضیایي په وینا نومورې د کونړ د سالارو د ویالې د پرانیستنې مراسمو ته روانه وه.

اعلامیه حزب اسلامی افغانستان در رابطه با شهادت دردناک جوشن پور شهید ولسوال نهرین ولایت بغلان

با تأسف چنان معمول است که در مناطق نزدیک مخالفان مسلح دولت هر آنکه کشته شود همه آنرا امر انجام شده و غیر قابل تعقیب تلقی می نمایند و دیگر هیچ مرجعی
در کشور ما وجود ندارد بپرسد آیا براستی مقتول توسط مخالفان مسلح دولت به قتل رسیده یا آنکه دست های مرموزی بخاطر انحصار قدرت و یا محو و محدود ساختن رقبای سیاسی خود ازین آب گل آلود ماهی می گیرند.
بهمین سلسله در حالیکه مسؤولیت به شهادت رسانیدن مرحوم ولسوال نهرین ولایت بغلان را نه طالبان و نه کدام گروه دیگر مسلح از مخالفین دولت بدوش گرفته اند دولت نباید در برابر چنین حادثه دلخراش و تکان دهنده خاموش ماند.
ولسوال شهید نهرین از اعضای فداکار و با شهامت حزب اسلامی افغانستان بوده که برای آوردن صلح و ثبات در کشور آماده هر نوع فداکاری و قربانی گردیده و در سنگر قرار داشت، بی تفاوتی دولت در حالیکه سؤ تفاهمات را میان جناح های سیاسی کشور عمیق تر می سازد. در همه آنهایی که برای آوردن صلح و ثبات و وحدت ملی در وطن عزیز ما در سنگر قربانی قرار دارند بی باوری و ناامیدی ایجاد می کند.
ما از مقامات ذیصلاح دولت اکیداً می خواهیم هیأت با صلاحیتی را برای تحقق تحقیق حادثه قتل شهید ولسوال نهرین موظف نماید.

جنرال نیک پارکر:

نباید برای خروج نیرو ها از افغانستان در سال ۲۰۱۱ عجله شود

رادیو آزادی:
دگر جنرال نیک پارکر معاون جنرال دیوید پیترویس قوماندان عمومی نیرو های بین المللی در افغانستان می گوید که برای خروج نیرو های خارجی در ماه جولای سال ۲۰۱۱ میلادی تاکید بیش از حد صورت گرفته است.
به گفته او، آنها نباید به صورت کورکورانه اقدام کنند و نیرو های نظامی را از افغانستان فرا خوانند زیرا به باور این جنرال بریتانیایی، خیلی ها مشکل خواهد بود تا در صورت نیازمندی، دوباره در امور افغانستان مداخله نظامی کرد.
جنرال پارکر در یک ارتباط ماهواره یی از افغانستان، به خبرنگاران در لندن گفت:
چیزی که باید انجام شود، اینست که به صورت دقیق خود را عقب بکشند و سپس این نیرو ها به مناطق دیگر توظیف شوند. بنا به گفته او، نباید عجله یی برای خروج از افغانستان صورت گیرد.
این جنرال بریتانیایی همچنان در سخنرانی روز دوشنبه اش گفت که موضوع خروج از افغانستان به سیاست های داخلی در برخی از کشور ها، مبدل شده است.
او می گوید که در باره تعداد عساکر امریکایی که احتمالاً از افغانستان خارج شوند، دقیق نمی داند اما او به گزارش رسانه ها اشاره کرد که این تعداد را دو هزار نفر خوانده اند و به گفته او این یک رقم آن قدر مهم هم نیست.
معاون جنرال پیترویس افزود که مطمین است تا ماه جولای سال ۲۰۱۱ عساکر افغان از ظرفیت های زیادی برخوردار خواهند شد و نیرو های بریتانیایی بحیث یک نیروی واکنشی در هر محلی که به آنها نیاز باشد، عمل خواهند کرد. ...

بقیه در صفحه ۴

د ناټو ځواکونو پر حملې د پاکستان اعتراض



تاند ویب پاڼه:
پاکستان نن په افغانستان کې پر ناټو ځواکونو سخت اعتراض وکړ چې هیلي کوپترونه یې د افغانستان له پولې واوښتې او د پاکستان په خاوره کې یې پر طالبانو بمباري وکړه.
مخکې ناټو ځواکونو ویلي وو چې شاوخوا دېرش وسله وال یاغیان یې د جمعې په ورځ وروسته له دې د پاکستان په خاوره کې د دوو ځرخکو په وسیله په بمباری کې ووژل چې هغوی په خوست ولایت کې د پر یوې پوستې برید وکړ او د پاکستان خاورې ته وتښتېدل خو اوس دا ځواکونه وایي چې د وژل شویو طالبانو شمېر تر پنځوس تنو اوړي.
پاکستان وایي چې د ناټو ځواکونو هیلي کوپترې دوه ځلې د خوست له ولایته د قبایلي سیمو فضا ته داخلې شوې او سخت دریځي یې تعقیب کړل.
د پاکستان د بهرنیوچارو وزارت ویندوی عبدالباسط په یوه اعلامیه کې وویل :دا ځرګند تېری دی او د ملګروملتو د هغه ماموریت سرغړونه ده چې پراساس یې په

پاتې ۴ مخ

تلاش روسها برای حضور مجدد در افغانستان

صفحه دوم

د امریکا یوه بل پاروونکی اقدام

دریيم مخ

استرالیایي سرتېري د ولسي وګړو د وژنې په تور محاکمه کېږي

بی بی سی :
د تېر ۲۰۰۹ کال په فبروری میاشت کې د استرالیا ځانګړو ځواکونو په ارزګان ولایت کې د ولسي وګړو د اوسېدو په یوه ځای کې عملیات کړي ول، چې په پایله کې شپږ ولسي وګړي ووژل شول او څلور نور ټپیان شول.
هغه مهال د استرالیا ځانګړو ځواکونو ویلي وو چې ګني هلته د طالبانو یو شکمن قومندان پټ شوی دی.
برید پر یوه بل کور وشو، چې پنځه ماشومان پکې ووژل شول.
پر دغو سرتېرو تور دی، چې هلته یې ولسي وګړي وژلي او د ناسم ریوټ له مخې یې دغه عملیات کړي دي.
لا تر اوسه مالومه نه ده، چې ایا درې واړه پوځیان به له یو شان سزا سره مخامخ شي او که څنګه.
یو بل کس چې لا تر اوسه یې هویت نه دی په ډاګه شوی، له دغو ځانګړو ځواکونو سره په عملیاتو کې شریک و. ...

پاتې ۴ مخ

د تروریزم پرضد جنګ له افغانستانه دباندې وکړئ "زلمی رسول"



تاند ویب پاڼه:
د افغانستان د باندنیو چارو وزیر امریکا، ناټو او نورو متحدانو ته خبرداری ورکړ چې که دوی غواړي چې د تروریزم پرضد جګړه وګټي، باید د افغانستان له کلیو او باندو لېرې پام وکړي او داسې ستراتیژي خپله کړي چې په قاطعیت تروریستي ډلې او شبکې له منځه یوسي.
د افغانستان حکومت په ځانګړې ډول ولسمشر کرزی تل وایي چې نړیوال ځواکونه باید د طالبانو پر ضد جګړه د افغانستان پرځای د افغانستان له خاورې دباندې(پاکستان) وکړي ځکه چې د دوی په وینا تر څو چې په بهر کې د طالبانو د روزلو،جذبولو،تمویل او

پاتې ۴ مخ

رهبران طالبان بخاطر مذاکرات صلح با حکومت افغانستان تماس گرفته اند "پیتریوس"

اسوشید پرس:
رییس جمهور کرزی از مدت های به اینسو گفته که اگر طالبان از جنگ دست بکشند، روابط خود را با تروریستان قطع کنند و قانون اساسی افغانستان را بپذیرند، با آنها مذاکره خواهد کرد.
به صورت علنی طالبان بار ها گفته اند، تا زمانی مذاکرات را نمی پذیرند که نیرو های بین المللی افغانستان را ترک کنند اما در عین حال بعضی نشانه های وجود دارد که مذاکرات پنهانی هم صورت گرفته است.
خبرگذاری اسوشید پرس می نویسد که جنرال دیوید پیتریوس قوماندان عمومی نیرو های امریکایی و ناتو در افغانستان، پس از بازگشت از یک زندان نیرو های امریکایی در نزدیکی پایگاه هوایی بگرام به خبرنگاران گفت: "رهبری طالبان از مدت ها به اینسو

بقیه در صفحه ۴

د لوی او مهربان خدای په سپیڅلي نامه

په پارلماني ټاکنو کې درغلۍ کوونکو ته دې سخته سزا ورکړی شي

دا یو منل شوی حقیقت دی چې د هېواد سرنوشت دهغه د اوسیدونکو په لاس کې دی، یواځې اوسیدونکي یې کولې شي چې د سالمو او شفافو انتخاباتو له لارې د خپل هېواد تقدیر بدل کړي، که اوسیدونکی د خپل هېواد په اړه د غفلت ښکار شي او سمسورتیا لپاره یې بشپړه پاملرنه ونه کړي نو هېواد یې وروسته او له ډول ډول کړاوونو سره مخامخ کیږي.

د هېواد په پرمختګ او سمسورتیا کې د اولس خوشالي او آرام ژوند رانغښتل شوی، او د هېواد په وروسته والي کې د اولس وروسته والي او پریشانی مضمر دی. هیڅ یو هېواد د خپلو اوسیدونکو له زیار پرته پخپله پرمختګ نه شي کولې.

د هېواد د سمسورتیا او پرمختګ لپاره لومړی شرط د اولس خپل منځي اتفاق، یووالي او مضبوط وروروَلی دی، د خپل دین او قانون احترام او پرهغه عمل کول دی. له خپل هېواد سره له ځانه زیاته مینه او اخلاص ښودل دي، د خپل هېواد او خاورې مرستې ته ورداڼګل او دهغه بشپړ ملاتړ کول دي، له ټولو شیطاني او ناروا تعصبونو ځخه ځان ساتل او د یو بدن غړي جوړیدل دي، د هېواد د استقلال او سپیڅلي دین د ساتنې لپاره منظم او نه ماتېدونکي صف جوړول دي چې د غلیمانو هر چال په پوره جرئت او متانت خنثی کړي.

ډېر د خوښي ځای دی چې په ملت کې دا احساس مخ په قوی کیدو دی، د قوم، ژبې، رنګ او سمت پالنې پر ځای اسلامي او افغاني رنګ په غالبیدو دی، پخپلو منځونو کې د جنګ او جګړې جذبه مخ په ختمیدو ده، د زیاترو ځوانانو په خوله کې د وحدت او یووالې ترانې زمزمه کیږي. له تعلیم او هنر سره مینه یې ډېره شوې ده، د پردیو له لاسوهنې او مداخلې نه پاک ژوند یې ارمان دی. د دښمنانو له ناپاکو دسیسو نه تر ډېره حده خبر دي او بشپړ هلې ځلې کوي چې پخپل هېواد کې د پردو لاسونه لنډ کړي.

سیاسي او مذهبي مشران باید نور د خپل غیرتي ولس دغه نیک احساسات او جذبات درک کړي، له خپلو ناروا اختلافاتو ځخه لاس په سر شي، پخپلو کې د وروروَلي او اتفاق لاسونه ورکړي، داسې کومه خلا پرې نږدي چې د پردیو لاسوهنو ته لاره هواره کړي. خپل ټول مسایل د سولې له لارې حل و فصل او د حقیقي سولې شرایط او ضروریات په ورین تندی ومني.

مشران دې دا واقعیت درک کړي چې د هېواد د پرمختګ او سمسورتیا په وړاندې یواځینی خنډ ددوی ترمنځ له ځانه جوړ شوی ناروا اختلاف او بې اتفاقي دی. که دغه خنډ لیری شي نو له څه شک پرته افغانستان په لږ وخت کې ګړندی پرمختګ کولې شي، د امن او آرام ژوند زانګو جوړیدای شي، د پردیو باداری ناولې خوبونه فاش فاش کولې او د یو آزاد او سرلوړی قوم په څیر د ژوند تیرولو جوګه کیدای شي.

په پارلماني ټاکنو کې د افغانانو بې پرې ګډون او له څه توپیره پرته وکیلانو ته رای ورکول په دې واقعیت دلالت کوي چې افغانان د خپل هېواد د راتلونکی په اړه غافل او بې تفاوته نه دي، هغوی د خپلو خوښو وکیلانو ته په دې مقصد رای ورکړی دی چې په پارلمان کې د خپل ولس د احساساتو صحیح ترجماني وکړي. د پارلمان له لارې داسې مثبت ګامونه اوچت کړي چې د افغانانو د وحدت او یووالي آرمان منعکس شي. په ټاکنو کې رای اچوونکو درغلی نه دی کړی درغلی وکیلانو او حکومتي مسؤولینو کړی دی. رشوتونه او بډې کاندیدو وکیلانو ورکړی دي همغوی جعلي کارتونه په پیسو اخستې دي او ددوی د استعمالولو او اچولو اجازه پر صندوقونو ولاړ و حکومتي مسؤولینو ورکړیدی، دا هر څه د کاندیدانو او حکومتي مسؤولینو ترمنځ سازو باز په نتیجه کې شوي دي ځو د ملت د رښتینو او مخلصو کاندیدانو د انتخابیدو مخه ونیسي. ولس خپل مسؤولیت ترسره کړې مګر ډېرو کاندیدو وکیلانو او حکومتي مسؤولینو خپل ملي، اسلامي او اخلاقي مسؤولیت نه دی ترسره کړې، د قانون بې حرمتي هم دوی کړې او هم دوی ددې جرم مرتکبین دي. ولس غواړي چې دغه په جرم ککړ کسان ژر تر ژره وپیژندل شي او د قانون منګولو ته وسپارل شي، دوی د ټولنې ناسور دي ددوی د ختمولو لپاره دې هیڅ ډول سستي ونه کړې شي. که چېرته ولس مشر حامد کرزی او دهغه حکومتي ټیم درغلي کوونکی له کاره ونه غورځوي او هغوی ته سخته سزا ورنکړي شاید چې راتلونکې انتخاباتو ته خلک له خپلو کورو ځخه دباندې ونه وځي او مکمل مقاطعه او پریکون ورسره اعلان کړي نه ښایي حکومت د ملت اعتماد له لاسه ورکړي ځکه چې هیڅ یو حکومت او نظام د ملت د اعتماد پرته پایښت نلري.

افغانان پخپل هېواد کې واقعی انتخابي حکومت او دایمي سوله غواړي، له فساد او درغلیو سره کلکه کرکه لري، یواځینی آرمان یې دا دی چې ټول افغانان د ورونو په څیر په یو تغر کیني، یو شعار او یو دریځ ولري، اسلامي قانون او غښتلی حکومت ولري، زړه سواندی، همدرد او خدمتګار چارواکي ولري، آزاد او خپلواک ژوند ولري او خپله هره پریکړه پخپله وکړي.

که د پارلمان نوی منتخب شوي غړي واقعاً د خپل ولس د دغه آرمان او غوښتنې سهي ترجماني وکړي او دهغوی د جذباتو خیال وساتي نو ان شاء الله چې د افغانانو ډیری غوښتنې به پوره، او ډېر کړاوونه به یې ختم شي.

لوی الله دې موږ ټولو افغانانو، په ځانګړی توګه چارواکو ته دې توفیق ورکړي چې خپل ایماني او افغاني مسؤولیت په ترسره کولو او د هر ډول فساد او درغلیو په له منځه وړلو سره د یو مستحکم او مستقل اسلامي حکومت بنسټ کیږدي.

اعزامی

تلاش روسها برای حضور مجدد در افغانستان

پس از شکست و اخراج قشون سرخ از افغانستان در سال ۱۹۸۸، اتحاد شوروی سابق دیگر نقش و اعتبار بین المللی خود را به عنوان یکی از دو ابر قدرت جهان از دست داد و فقط سه سال بعد از آن امپراطوری کمونیزم به رهبری ماسکو از جغرافیای سیاسی جهان حذف و اتحاد جماهیر شوروی سابق به ۱۵ دولت مستقل تجزیه گردید. پیمان قدرتمند نظامی وارسا منحل و کشورهای اروپای شرقی و سایر اقمار شوروی سابق با گسستن رشته وابستگی به ماسکو، به عنوان کشورهای آزاد و تام الاختیار در جهان ظهور نمودند.

روسیه با مرکزیت ماسکو به عنوان دولت محوری امپراطوری کمونیزم پس از انقراض امپراطوری کمونیزم به عنوان، وارث اصلی اتحاد شوروی سابق شناخته شد و تمام اقتدار سیاسی و نظامی باقی ماندهٔ دولت سابق، به فدراسیون روسیه تعلق گرفت و کاخ کرملین تحت اداره و کنترول روسهای ملی گرا و جمهوریخواه در آمد.

فدراسیون روسیه پس از اضمحلال دولت کمونیستی که در زمانش تقریباً بر نیمی از کرهٔ ارض فرمان می راند، از توسعه طلبی، هجوم به خاک کشورهای دیگر و حمایت و از جریان های چپی دست کشید و تقریباً برای دو دهه مقامات ملی گرای کرملین مصروف ترمیم و بازسازی شکست و ریخت های داخلی خویش بودند و به خصوص از سال ۱۹۹۰ تا همین اواخر نسبت به قضایای افغانستان کمتر علاقه میگرفتند و در کنفرانس های بین المللی کمک به افغانستان، سهم خیلی ضعیف می گرفتند.

علمی اعم دورهٔ فتور روسها همواره از حضور روز افزون امریکا در آسیای جنوبی و مرکزی خیلی نگران بودند، ولی نسبت مشکلات اقتصادی و سرخوردگی روحی سیاسی ناشی از جنگ افغانستان و اضمحلال شوروی سابق، عکس العمل جدی نشان نمی داد و به نحوی از آنجا حضور غرب را در منطقه برای سرکوبی افراط گرایی تایید می کرد.

روسها تا یک سال قبل چنان می پنداشتند که مبارزه غرب و در راس آن امریکا، در برابر بنیاد گرایی به پیروزی می رسد و لهذا آنها با اتخاذ سیاست کجدار و مریز، گاهی حضور غرب را در منطقه تایید و بعضاً هم تردید می کردند، مگر این سیاست دو پهلو سال گذشته پایان یافت و روسها حمایت شان را از مبارزهٔ علیه غرب دهشت افگنی جدی تر ساخت و با دادن اجازه انتقال به مواد لوژستیکی از زمین و هوای روسیه و کشورهای آسیای مرکزی به امریکایی ها اطمینان دادند که اگر راه پاکستان برای اکمالات نیروهای ناتو در افغانستان مشکل آفرین باشد، روسیه حاضر است که همچو تسهیلات را از طریق خویش فراهم کند.

صاحب نظران را عقیده بر آن است که این آمادگی همکاری روسها با امریکا و ناتو نه بخاطر آن بود که غرب را در مبارزه علیه بنیادگرایی کامیاب کنند تا سیطره واشنگتن بر آسیا گسترش یابد، بلکه این چراغ سبز بخاطر آن بود که تردد و نگرانی غربی ها را از عدم ادامه جنگ، برطرف نموده و با مصمم ساختن آنها بر ادامه جنگ، پای امریکا را در باتلاق افغانستان بیشتر فرو ببرد و با فرسایشی شدن جنگ، قوت و منابع بشری امریکا در افغانستان به تحلیل برود و بدینوسیله انتقام شکست قشون سرخ را در افغانستان از امریکا بگیرد.

کنفرانس چهار جانبهٔ سوچی در کنارهٔ بحیرهٔ سیاه و حضور حامد کرزی رئیس جمهور افغانستان در آن نشست، حکایت ازین حقیقت دارد که روسها دوره عزلت و بی تفاوتی در قضایای افغانستان را کنار گذاشته و بی صبرانه در صدد آنند تا با حضور مجدد در صحنه، جای خالی غرب را در فردای خروج نیروهای امریکایی و ناتو در افغانستان پر کنند.

روسها پس از ترمیم شکست و ریخت امپراطوری کمونیزم و ۲۱ سال رفع خستگی ناشی از ناکامی تاریخی قشون در افغانستان، قصد دارند که برنامه های حضور دراز مدت امریکا را که بنام شرق میانه بزرگ در دست اجرا دارد، مهار نموده و در عوض طرح خود شان را بنام "شرق میانه جدید "احیاء نمایند درین طرح در کنار کشورهای آسیای مرکزی (منطقه نفوذ روسیه) دول چین، هند، پاکستان، ایران، افغانستان، مغولستان، ترکیه و آذربایجان بنابر ضرورت های سیاسی و اقتصادی، بالاخص تجارت منابع انرژی بسوی نوعی همگرایی حرکت می کنند که پایگاه اصلی این گرایش ها از کنفرانس شانگهای شروع و با تسریع فعالیت های دیپلوماتیک در قالب نشست های دو جانبه و چند جانبهٔ بین کشورهای منطقه تحت سیادت روسیه در حال شکل گرفتن است.

مقامات کرملین هنوز بر این قول شان تاکید دارند که دیگر هیچگاهی به افغانستان عسکر نمی فرستند و نه می خواهند خاطرات تلخ شکست تاریخی شان را در افغانستان طی دهه هشتاد، بار دیگر تکرار کنند، ولی می خواهند نفوذ و حضور خود را از راه های دیگری چون ارائه کمک های اقتصادی و برقراری روابط دیپلوماتیک، در افغانستان حفظ کنند. این اندیشه زمانی در ذهن سران روسیه خطور کرد که پیروزی نظامی نیروهای ایساف و ناتو در افغانستان به بنبست مواجه شد و امریکایی ها از خروج تدریجی نیروهای شان از جولای سال ۲۰۱۱ خبر دادند. طبیعی است که هرگاه مسئله حضور نظامی مطمح نظر نباشد، روسها از لحاظ سیاسی و اقتصادی، بهترین شانس را در برقراری روابط با افغانستان دارند. رئیس جمهور روسیه در کنفرانس سوچی، آماده گی کشورش را برای احیا پروژه های نیمه تمام گذشته که نقشه احداث آنها در دوران شوروی سابق در افغانستان ریخته شده بود، ابراز کرد. گفته میشود که تقریباً به تعداد ۱۴۰ پروژهٔ خورد و بزرگ که دولت شوروی وقت، سنگ تهداب آنها را در افغانستان گذاشته بود، تا هنوز ناتمام باقی مانده روس ها فعلاً قصد دارند که کار آنها را سر بیگیرند.

غیر از نگرانی روسها از حضور روز افزون امریکا در منطقه تحت نفوذ ماسکو، انگیزه های دیگری نیز وجود دارد که روسها را علاقمند برقراری مناسبات نزدیک با افغانستان نموده، از آن جمله جلوگیری از توسعه رو به تزاید جنبش اسلام گرایی که امواج آن تمامی کشورهای آسیای مرکزی و قفقاز را در بر گرفته و روسها ازین بابت از بی ثباتی سرحدات جنوبی خویش سخت نگران اند.

قاچاق مواد مخدر که از طریق آسیای میانه به روسیه متهی می شود، تشویش دیگری است که روسها در صدد جلوگیری از آن اند، زیرا هم اکنون ۲ میلیون نفر در روسیه به مواد مخدر معتاد شده اند و افزایش این رقم در سال های آینده تهدید بزرگی بر کیان روسیه به شمار می رود.

کشف و سروی معادن سرشار فلزی و فسیلی (نفت و گاز) افغانستان که امروز توجه دول و شرکت های بزرگ دنیا را جلب کرده، انگیزه دیگری است که روسها همراه با کشورهای آسیای مرکزی در همسایگی افغانستان نمی خواهند که نظاره گرا استخراج این گنج بیکران باشند و سود آن تنها به کیسه دیگران بریزد.

رو بهمرفته، نشست سوچی این نکته را به اثبات رساند که کشورهای منطقه بنابر عوامل سیاسی، جغرافیایی و اقتصادی، از همدیگر درو باقی مانده نمی توانند، بناءً با برقرار روابط نزدیک و منطقی از طریق تفاهم و مشوره، موانع و محدودیت های گذشته را از سر راه برداشته می توانند و روسیه با داشتن امکانات وسیع از شانس بهتری برای رسیدن به اهداف فوق برخوردار است.

محمد خلیل

د امریکا یوه بل پارونکی اقدام

تیره ورځ د امریکا د پوځي عدالت قاضیانو عافیه صدیقی د ۸۶ کلو په اوږد حبس محکومه کړه، عافیه صدیقی، د رواني ناروغیو ماهره او د قرآن کریم حافظه ده.

پر نوموړي د امریکا له خوا دا تور لګول شوي وه چې هغې د امریکایی پوځیانو د وژلو لپاره افغانستان ته سفر کړی و چې په غزني ولایت کې له اسنادو سره ونیول شوه. له نیولو وروسته د تحقیقاتو پر مهال د یو امریکایی پوځي له لاسه ټوپک په زوره واخیسته او پرهغه یې ډزې وکړې چې ونه لګید.

عافیه صدیقي

لوستونکو ته به په یاد وي چې د بګرام په محبس کې د عافیه صدیقی د بندیتوب راز یوې برطانوي نوی مسلمانه شوې ژورنالستې ایوان ریډلي هغه مهال بربنډ کړ چې د افغانستان پلازمینې کابل ته راغلې وه، لدې وړاندې امریکا کله هم د عافیه صدیقی د نیولو او د بګرام په بندیخانه کې دهغې د موجودیت رپوټ نه و ورکړې.

د بګرام په جیل کې چې له عافیه صدیقی سره کوم غیر انساني ناروا سلوک شوې و او پر هغې د ظلم او بربریت کومې میچنې ګرځول شوې وې دهغه زخمونه لا د نړۍ بشر دوستو انسانانو او مسلمانانو په زړونو کې تازه وو چې د امریکا پوځي عدالت عافیه صدیقي ۸۶ کاله په اوږد حبس محکومه کړه.

ددغه خبر په اوریدو سره د نړۍ مسلمانانو خپل شدید عکس العمل وښود او دا یې سراسر ظلم او زیاتې وباله، که اصل حقیقت ته وکتل شي نو دا خبره جوتیږي چې عافیه صدیقي ته د کومې ګناه خوړونه او سزا اوړول شوې ده، هیڅ بنسټ نه لري ځکه چې داسې کوم شواهد، آثار او قراین نه لیدل کیږي چې د هغې په جرم دلالت وکړي.

هر انسان د خپل عقل په کار اچولو سره کولې شي چې د عافیه صدیقي دوسیه لږ وخت لپاره وڅیړي او د حق او باطل ترمنځ توپیر وکړي.

د عافیه صدیقي په اړه چې امریکا کوم تورونه لګولي او دهغو پر بنسټ ورته د اوږد حبس سزا اورولې ده پخپله امریکایی قانون پوهانو په شمول د نړۍ ټولو قانون پوهانو وړاندې کلکی نیوکې کړې او دایې ظالمانه او غیر عادلانه فیصله بللې ده.

د هیڅ انسان عقل دا نه مني چې عافیه صدیقي دې له خپلو دوه ماشومانو سره یو ځای د امریکایانو د وژلو لپاره افغانستان ته سفر وکړي او دهغوی د وژلو اسناد دې هم له ځانه سره یوسي. که هغې د امریکایانو د وژلو کوم پلان درلودای نو په آساني سره کولې شوه چې په یواځې ځان د خپلو وړو ماشومانو او اسنادو پرته پر امریکایانو د ځان مرګې برید په ترسره کولو د خپل انتقام جذبه سره کړی.

که بالفرض د امریکا دا دلیل هم ومنل شي چې عافیه صدیقي دهغوی د پوځیانو د وژلو له پاره افغانستان ته راغلې وه او هغه یې له نقشې سره یو ځای راونیوله نو دلته دا پوښتنه مخې ته راځي چې امریکا د هغې او دهغې د ماشومانو د نیولو خبر ولې د مطبوعاتو له لارې خپور نکړ؟ ! دهغې د کم عمره تنکي ماشومان یې ولې دهغې خپلوانو ته ونه سپارل؟ ! دهغې ماشومان یې په کوم جرم په نامعلوم ځای کې غیب کړل چې ترننه د یو زوی مړی ژوندې هم نه دی معلوم؟

بله پوښتنه دا مخې ته راځي چې امریکایي پوځیان معمولاً د پوښتنې او ګرویږګنې پر مهال د بندي دواړه لاسونه او پښې تړي او دهغه د څارنې لپاره مسلح پوځیان ودروي، عافیه صدیقي په داسې حالت کې څنګه وتوانیدله چې د یو منظم تړینګ شوي پوځي نه ټوپک راواخلي او پرهغې ډزې وکړي؟

له امریکایي پوځیانو سره چې کومې ټوپکي دي دهغوی تخنیک دومره پیچلي دي چې له وړاندینه د زده کولو پرته له امریکایي پوځي پرته بل هیڅوک وریاندې نه ډزې کولې شي او نه هم په استعمال یې پوهیږي، که دا هم ومنل شي چې عافیه صدیقي د ټوپک چلولو مهارت هم درلود نو بیا دا څنګه ممکن کیدلې شي چې دومره نژدې ولاړ عسکر دې ترینه خطا شي؟ !

دا او ددې په څیر نورې پوښتنې په دې حقیقت دلالت کوي چې پر عافیه صدیقي څومره تورونه لګیدلي هغه بې اساسه او له حقیقت نه عاري دي. هغې ته صرف په دې ګناه دومره لویه خوړونه او اوږده سزا په دې خاطر ورکول شوې چې دهغې خاوند له القاعدې سره د اړیکو په درلودلو تورن دی او په کراچی ښار کې د امریکا د سفیر د وژلو پړه وریاندې اچول شوې ده. د شنونکو په اند دې له پاره چې امریکا دهغې خاوند ته ذهني اذیت ورسوي او په جیل کې له جسماني اذیت سره روحي اذیت هم ووینې دهغه بې ګناه ښځې او د ماشومانو پر نیولو لاس پورې کړ.

فارس نیوز د تایم ترک په حواله لیکي چې عافیه صدیقي ته امریکایي پوځي محکمې صرف په دې جرم د اوږد عمر سزا اورولې چې هغې د تحقیقاتو پر مهال مړه دې وي امریکا شعار ورکړی و. هغه د مشرف د اقتدار پر مهال په کراچی ښار کې د خپلو ماشومانو سره یو ځای لادرکه شوې وه چې څو کاله وروسته د بګرام امریکایي بندیخانه کې پیدا شوه. د عافیې خپلوان ادعا کوي چې د مشرف د وخت داخله وزیر هغه نیولې او امریکایي استخباراتو ته حواله کړې وه.

د نړۍ ګڼ مسلمانان دا فکر لري چې امریکایي چارواکي له ډېر وخت نه د خپلو اعمالو په نتیجه کې په مختلفو وختونو کې د مسلمانانو په زړونو کې د نفرت اور کرکی د اورونو د بلولو پروسه پیل کړي او له مسلمانې نړۍ سره د تشنج د پیدا کولو اورونه بلوي، د هغوی دا انګیري چې د عافیې صدیقي نیول د همدغې پروسې یوه کړی ده.

د حیرانتیا خبره دا ده چې بارک اوباما یو لورې له مسلمانې نړۍ او مسلمانانو سره د تفاهم او ښو اړیکو ډندورو غږه وي مګر له بل لورې داسې کړنې ترسره کوي چې د مسلمانانو احساسات او جذبات راپاروي او د اعتماد فضاء پخپل لاس له منځه وړي.

له څه شک پرته د نړۍ مسلمانان د عافیه صدیقي نیول او هغې ته پر بې بنسټو تورونو دومره غټه سزا ورکول پخپل لاس له مسلمانانو سره د ښکاره دښمنی اعلان بولي.

دې لپاره چې د امریکایي چارواکو په خلاف د مسلمانانو له زړونو څخه د بې اعتمادي فضاء ختمه او پرځای یوه باوری فضاء رامنځ ته شي ددې خبرې ضرورت دی چې امریکایي چارواکی له ټولو هغو کړو وړو څخه لاس په سر شي چې له امریکایانو نه د مسلمانانو اعتماد ختموي.

دا یو واقعیت دی چې تر اوسه امریکایي چارواکو په ملي او بین المللي کچه له مسلماني نړۍ سره داسې غیر عادلانه او سپکوونکی سلوک جاري ساتلی دی چې د ډېرو مسلمانانو په زړو کې د بې باوري سکروټې تازه کړې دي. مثلاً د فلسطین په مسئله کې د امریکا جانبدارانه پالیسي، سوډان، صومالیه، کشمیر، عراق، فلپین، چیچین او نورو ډېر مسایلو کې له مسلمانانو سره ناروا سلوک، د قرآن کریم د سوځولو او نورو اسلامي شعایرو بې حرمتي هغه بنسټیزې توکي دي چې د مسلمانانو باور او بروسه له امریکا او دهغې د ملګرو څخه ختمه شوې ده.

اوس د عافیه صدیقي په خلاف د امریکایی عدالت تازه غیر عادلانه فیصله ددې باعث ګرځیدلې چې د تشنج او بې باوري لمنه نوره هم پراخه کړي.

که چېرته امریکایی چارواکی او حواریون یې په رښتیا له مسلمانانو سره روان تشنج او بې باورۍ فضاء ختمول غواړي نو ددې یواځینی لاره داده چې امریکا د عافیه صدیقي په شمول په ټولو مسائلو کې په عدل او انصاف ولاړ روښانه پالیسي خپل کړي، د اسلام او مسلمانانو په خلاف داسې کوم ګام اوچت نه کړي چې د مسلمانانو احساسات وپاروي او د تشنج فضاء رامنځ ته کړي، واقعي سوله به هله راشي چې د نړۍ ټول انسانان د متقابله احترام په اساس د ټولو د حقوقو احترام وکړي او هر چاته په آزاده او عادلانه فضاء کې د ژوند تیرولو حق ورکړي، که نه نو تر قیامته پورې به انسانیت د امن خواږه ونه څکي.

لیکنه: استاذ مصطفی سباعي

ژباړه: ډاکټر غنچه ګل ارمان

د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه ژوند ته لنډه کتنه

- حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه د رسول الله صلی الله علیه و سلم له نبکمرغه زوکړې څخه دوه کاله او څو میاشتې وروسته نړۍ ته سترګې وغړولې.
- لومړی سړی وو چې په رسول الله صلی الله علیه وسلم یې ایمان راوړ.
- مدینې منورې ته د هجرت او د ثور په غار کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم یوازینی ملګری وو.
- خپله لور حضرت عایشه رضی الله عنها یې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته په نکاح ورکړه او په دې توګه یې لور د رسول الله صلی الله علیه وسلم مېرمن او د مؤمنانو مور وګرځېده.
- د رسول الله صلی الله علیه وسلم له وفات څخه وروسته د هغه د لومړني ځای ناستي په توګه وټاکل شو.
- د هجرت په لسم کال خلیفه وټاکل شو او دوه کاله او درې میاشتې د مسلمانانو لارښود وو.
- د رسول الله صلی الله علیه وسلم په څېر یې د درې شپېتو کالو په عمر له نړۍ څخه سترګې پټې کړې.
- د حضرت عایشې رضی الله عنها په کوټې کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د مبارک قبر تر څنګ خاورو ته وسپارل شو.
- یو له ډېرو ارزښتناکو خدمتونو څخه یې د قرآن کریم راټولول او یو ځای کول وو چې له هغې وړاندې د حافظانو په سینو کې او د لرګي او تیګو پر تختو، او څرمنو خوندي وو.
- د شپږو بچیانو، درې نارینه او درې ښځینه، پلار وو. درې زامن یې عبدالله، عبدالرحمن او محمد، او درې لوڼې یې اسماء، اُم المؤمنین عایشه، او اُم کلثوم وې.

نوم او نسب:

نوم یې عبدالله او کنیه یې ابوبکر وه، د پلار نوم یې عثمان وو چې خلکو به ور ته ابی قحافه ویل. ابوبکر صدیق په عتیق او صدیق شهرت درلود. صدیق یعنې هغه کس چې خلک یې تائیدوي او وینا او کړه وړه یې دروغ نه ګڼي. همدارنګه به یې له هر چا وړاندې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د الله جل جلاله له لوري راتلونکی خبر تائیداوو.

د جاهلیت په زمانه کې د هغه اخلاق:

حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه د جاهلیت په دور کې هم د قریشو له تر ټولو شریفو کسانو څخه وو. له ښو او بدو څخه تر نورو ډېر خبر وو. سوداګري یې کوله او په خپل دغه کار کې بریالی وو.
- د غوره اخلاقو څښتن وو.
- د خپر تېر ټولو وګړو ور سره مینه لرله.
- هیڅکله یې هم خوله په شرابو نه ده ایښې.
- د جاهلیت او بت لمانځنې په دور کې یې هیڅکله د بُتانو عبادت نه دی کړی. سپین رنګه او خوار-اندامی وو. څېره یې لږه هډوکنه، ګڼ وېښتان او لږ کړوپ قامت یې درلود.

په اسلام مشرفېدل:

هغه وخت چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د الله جل جلاله له لوري په رسالت وګومارل شو، لومړنی کس یې چې اسلام ته راوباله، ابوبکر صدیق وو، او هغه یې هم بې له ځنډه بلنه ومنله.

تل د رسول الله صلی الله علیه وسلم تر څنګ ولاړ وو، او له دین څخه د دفاع په لاره کې یې هر ډول کړاوونه او ستونزې ګاللي. مدینې ته د هجرت پر وخت د رسول الله صلی الله علیه وسلم هملاری او د ثور په غار کې ور سره یو ځای وو. د اسلام د پرمختګ په لاره کې یې هیڅ ډول ور کړه او لګښت نه دی سپمولی، او د رسول الله صلی الله علیه وسلم تر وفاته یې ور سره خپله مرسته او ملاتړ کړی.
- رسول الله صلی الله علیه وسلم ته له خپلو ټولو اصحابو او ملګرو څخه ګران وو.
- د رسول الله صلی الله علیه وسلم د خلافت له پاره تر نورو ټولو غوره او وړ کس وو.

د ابوبکر صدیق رضی الله عنه خلافت:

په داسې وخت کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ځای ناستي په توګه ور سره بیعت وکړل شو چې له یوې خوا مسلمانان د رسول الله صلی الله علیه وسلم د وفات، له اسلام څخه د ځینې عربي قبیلو د ګرځېدنې، او د هغه د ځای ناستي له منښته د ځینو نورو د ډېږ کولو له کبله په ویر او ستونزو اخته وو، او له بلې خوا د روم امپراتورۍ پر حجاز، مکې او مدینې د یرغل تابیا نیوله.

همدا ډول د اسلام لښکر چې د ځوان اُسامه بن زید تر مشرۍ لاندې رسول الله صلی الله علیه وسلم له خپل وفاته وړاندې د رومیانو د یرغل د مخې د ډب کولو په موخه ګومارلی وو، له مدینې سره نږدې د خوځېدنې امر ته ځنډ یوست.

ابوبکر صدیق رضی الله عنه د مسلمانانو د لارښود په توګه له ټاکل کېدو څخه وروسته د تاریخ له ټولو لارښوونکو څخه په غوره توګه خپل مسؤلیت پر ځای کړ.

د ارتداد او له دین څخه د ځینو عربي ټبرونو د ګرځېدنې د ستونزې په وړاندې په پربکنده او اوسپنیز هوډ سره ودرېد، ستر بریالیتوبونه یې تر لاسه، او د دغې فتنې اور یې په هماغه سپرغۍ کې مړ کړ.

د اُسامه بن زید تر مشرۍ لاندې د اسلام سرتیري لښکر ته یې امر وکړ چې د هماغه مسؤلیت د تر سره کولو له پاره د خپل هدف په لور وخوځېږي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ور ته سپارلی وو.

حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه وروسته له هغه چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ځای ناستي او د مسلمانانو د لارښود په توګه وټاکل شو، د مسلمانانو غونډې ته وویل: "په داسې حال کې چې زه پر تاسې څه غوره والی نه لرم، او له تاسې څخه غوره نه یم، زه مو د خپل مشر په توګه وټاکلم.
- که په سمه لار روان وم، لاس نیوی مې وکړئ !

پاتې ٤ مخ

شهادت اوونیزه

خپروونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه

د امتیاز څښتن: حزب اسلامي افغانستان

مسؤول مدیر: عبدالله کامه وال

مرستیا ل مدیر: عبدالخلیل (محمد خلیل)

داړیکې شمېره ۰۷۰۸۱۹۸۵۸۲

ډیزاین: خواجه وحیدالله

د کتنپلاوي تر څارنې لاندې

آدرس: دحزب اسلامي دفتر سیلو ته مخامخ خوشحال خان مېنه

یک هواپیمای بدون سرنشین امریکا در افغانستان سقوط کرد

خبرگزاري فارس: سخنگوي والي "پکتیکا" از سقوط یک هواپیماي بدون سرنشین نیروهاي امریکایي در این ولایت خبر داد.

"مخلص افغان" در گفت وگو با خبرنگار خبرگزاري فارس در کابل، از سقوط یک هواپیمایي بدون سرنشین امریکایي در ولایت پکتیکا خبر داد.

سخنگوي والي پکتیکا اظهار داشت: این هواپیما ساعت ۱۲ امروز بر اثر عوارض فنی در منطقه "یحیی خیل" این ولایت سقوط کرد.

وي افزود: نیروهای امریکایي در این منطقه مرکزي براي تعمیر هواپیماهاي بدون سرنشین تاسیس کرده اند.

مخلص افغان خاطر نشان کرد: هواپیما بدون سرنشین در نزدیکي این کارگاه سقوط کرد و نیروهاي امریکایي لاشه آن را به تعمیرگاه انتقال دادند.

طالبان در تماس با رسانه‌هاي محلي مسئولیت سقوط این هواپیما را به عهده گرفته و اعلام کرد که این هواپیما بر اثر شلیک نیروهای این گروه سقوط کرده است.

پکتیکا یکي از ولایات همرز با پاکستان است و هواپیماهاي بدون سرنشین امریکایي براي بمباران پایگاه‌های شبه نظامیان در وزیرستان شمالی و جنوبی از این منطقه عبور می کنند.

امریکا تحقیقات جنایی را در مورد برادر حامد کرزی آغاز کرده است

امریکا رسانه ها:

څارنوالان فیدرال امریکا، تحقیقات جنایی را در مورد برادر رییس جمهور کرزی آغاز کرده اند.

تحقیق در باره محمود کرزی برادر بزرگ رییس جمهور کرزی که تبعه امریکا است، اکنون یک بار دیگر سوال های را در مورد روابط واشنگتن و کابل ایجاد کرده است.

روزنامه وال ستریت ژورنال نوشته که با توجه به وضیعت فعلی، هر حرکت برای متهم ساختن محمود کرزی خطر را برای مقامات امریکایی بیشتر می سازد زیرا هرگونه تلاش از سوی امریکا در این مورد، رییس جمهور کرزی را تحریک خواهد کرد و او عکس العمل جدی از خود نشان خواهد داد.

څارنوالان امریکایی می خواهند تا بدانند که شواهد کافی را در اختیار دارند تا در نتیجه آن فرار محمود کرزی از پرداخت مالیه به امریکا، و همچنان اخاذی و اضافه ستانی های وی ثابت شود.

پیش از سال ۲۰۰۱ میلادی، محمود کرزی، مالک یک رستورانت امریکایی بود اما در حال حاضر چهار ملکیت در امریکا دارد و چندین خانه را در کابل و دوبی به کرایه گرفته است.

محمود کرزی در صحبت با روزنامه، هر گونه تخلف را رد کرده و می گوید که تمامی منافع و سرمایه خود را به صورت مشروع بخاطر بازسازی افغانستان اختصاص داده است.

او گفته که چند نفر شاید در مورد او تحقیق کنند، چهار، پنج، ۱۰ یا ۲۰ نفر؟ به گفته وی، آنها موردی را پیدا نخواهند کرد زیرا او یک تاجر است.

روزنامه وال ستریت ژورنال می نویسد:

هر گونه فیصله در باره محمود کرزی شاید در آغاز سال ۲۰۱۱ میلادی صورت گیرد، یعنی بعد از آنکه ایالات متحده امریکا، ستراتیژی افغانستان را بررسی و اعلان کند.

در نهایت تصمیم برای ادامه روند تحقیقات در این مورد، به وزارت عدلیه امریکا مربوط می شود.

سخنگوی اداره څارنوالی امریکا در نیویارک از ابراز نظر در این مورد خود داری کرده و سفارت ایالات متحده در کابل نیز می گوید که روی مسایل حقوقی نمی تواند چیزی بگوید.

محمود کرزی اسنادی را به روزنامه وال ستریت ژورنال پیشکش کرده که نشان می دهد، سرمایه خالص او دوازده میلیون دالر است.

او در شهرکی در قندهار که به شیوه امریکایی توسعه می یابد نیز ۲۰ درصد شریک است.

روزنامه همچنان می نویسد که محمود کرزی در انتخابات ریاست جمهوری پارسال با برادرش کمک های زیادی مالی کرده است.

او گفته که می خواهد تا یک حزب سیاسی را بنیان گذاری کند و در سال ۲۰۱۴ میلادی در انتخابات ریاست جمهوری افغانستان نامزد باشد.

محمود کرزی همچنان در میان گروهی از تاجران افغان قرار داشت که میلیون ها دالر را برای ایجاد اتاق های تجارت و صنایع افغانستان اختصاص دادند.

او در یکی از موارد از توسعه شهرکی در قندهار یاد آوری کرده و گفته است، اگر آنها این زمین ها را اعمار نکنند، زورمندان به سلاح خود این مناطق را اشغال خواهند کرد.

محمود کرزی

به نوشته وال ستریت ژورنال، مقامات امریکایی در این اواخر توجه خود را از مبارزه با فساد در سطح بالا در افغانستان تغییر داده اند.

به گفته آنها، پلان نو امریکا، فشار ها بالای رییس جمهور کرزی خواهد بود تا وی پیش از آنکه با فشار های مردم روبرو شود، اداره خود را پاک سازی کند.

د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه ...

- او که په ناسمه وم، لارښوونه را ته وکړئ او سمې لارې ته مې برابر کړئ!

- رښتینولي او ښه وینا، او سم چلن یو امانت او مسؤلیت دی.

- دروغ او بده وینا، او بدچلن، بد کار او خیانت دی.

- په تاسې کې کمزوري او بې وسه تر هغه وخته له ما سره زورور او پیاوړي دي چې تر څو مې د هغوی حق نه وي ور ته اخیستی.

- همدا ډول په تاسې کې پیاوړي او ځورور زما په وړاندې تر هغه کمزوري او بې وسه دي تر څو مې چې د نورو حق نه وي ترې اخیستی".

- حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه په رښتیا پر الله جل جلاله او رسول الله صلی الله علیه وسلم د ایمان په برخه کې رښتونی وو.

- د دین د پرمختګ له پاره یې د سر او مال ښندنه کوله.

- خورا خیرک او د عقل څښتن وو، او د ستونزو پر وخت ډېر پرېکنده او هوډمن وو.

- بې کچې متواضع، پاک لمنی او زړسواند وو.

- له مسلمانانو سره یې له ډېرې تېرېدنې او زړه سوي ډک چلن کاوو.

- په داسې حال کې یې له نړۍ څخه سترګې پټې کړې چې هیڅ شته یې تر شا پرې نه ښودل.

- له خپلې مړینې مخکې یې حضرت عمر فاروق رضی الله عنه د مسلمانانو د مشرتابه له پاره وړاندیز کړ. انا لله و انا الیه راجعون

له اصلاح آنلاین ویب پاڼې څخه په مننه

د ناټو ځواکونو پر حملې د ...

افغانستان کې د ایساف ځواکونه فعالیت کوي.

پاکستان په عین حال کې د ناټو دا ادعا چې حق لري خپل مخالف وسله وال د پاکستان په خاوره کې هم تعقیب کړي، ونه منله.

خو د ناټو ترمشرۍ لاندې ځواکونو وویل چې دوی د ځان د دفاع پر اساس دا برید کړی دی. امریکایي مقاماتو هم وویل که پر دوی حمله وشي دوی حق لري چې په دښمن پسې څو کیلومتره د پاکستان خاورې ته ننوځي.

پاکستان وایي په دې برخه کې له امریکا یا ناټو سره کومې موافقې ته نه دی رسېدلی او د ناټو ترمشرۍ لاندې ایساف ځواکونه ماموریت د افغانستان تر خاورې پورې رالنډېږي.

د ایساف ویاند نن ویلي وو چې د برش وسله وال طالبان په دې برید کې وژل شوي وو. خو هغه د دوو څرخکو د لومړۍ حملې یادونه کړې وه.

وروسته نن د دې ځواک یوه امریکایي ویاند ډګروال مایکل جانسن وویل چې په لومړۍ حمله کې ۴۹ یاغیان ووژل شول. ده ادعا وکړه چې د ناټو ځواکونو له هیلي کوپټرو څخه په اسانۍ مړي وشمېرلی شول.

د خوست د امنیې قومندان عبدالحکیم اسحاقزي بیا تر دې د زیاتو طالبانو د وژل کېدو ادعا وکړه. ده وویل چې شپېته تنه وژل شوي دي.

اسحاقزي وویل سره له دې چې حمله د پاکستان په خاوره کې وروسته له دې وشوه چې د پولیسو پر پوستې برید وشو، خو افغان پولیسو له وژل شویو طالبانو څخه پاتې شوې وسلې او مهمات راوړل او مړي یې په خپلو سترګو ولیدل او وشمېرل.

دوهمه حمله وروسته له دې وشوه چې هیلي کوپټرې بیا د پولې لور ته وګرځېدې او د پاکستان په خاوره کې یې د سخت دریځو یو مرکز بمباري کړ. د ناټو ځواکونو د ویاند په ادعا په دوهم برید کې څلور تنه سخت دریځي ووژل شول.

نباید برای خروج نیرو ها از ...

او از پیشبینی ها در مورد خروج از افغانستان خودداری کرد اما گفت که نباید بیش از حد خوشبین هم بود که تا ضرب الاجل ۲۰۱۱ میلادی، نیرو های افغان تمامی ظرفیت ها را برای مبارزه با طالبان در خط مقدم جبهه خواهند داشت زیرا این یک ارزیابی شخصی است و او چنین فکر نمی کند.

اظهارات این قوماندان بریتانیایی در حالی صورت می گیرد که لندن پیش از این گفته بود، شاید خروج نیرو های نظامی اش از افغانستان را در سال ۲۰۱۵ میلادی آغاز کند.

بریتانیا پس از امریکا بیشترین سرباز را به افغانستان فرستاده و در حال حاضر ۹۵۰۰ عسکر در این کشور دارد.

در حالی که بیش از یک صد و پنجاه هزار سرباز کشور های مختلف در افغانستان مستقر اند، گفته می شود که در بسیار کشور های جهان به خصوص امریکا و بریتانیا، ماموریت افغانستان با افزایش شورش ها در این کشور، از حمایت کم مردمی برخوردار است.

رهبران طالبان بخاطر ...

تلاش دارد تا با مقامات ارشد حکومت افغانستان تماس برقرار کنند و یقیناً که این کار را هم کرده است."

به گفته پیترویس مذاکره با رهبری طالبان در یک سطح عالی از سوی حکومت افغانستان دنبال می شود و شرایط حامد کرزی بسیار واضح و روشن است که ایالات متحده هم از آن حمایت می کند زیرا در عراق هم چنین اقدامی صورت گرفت و یا هم طوری که حکومت بریتانیا در آیرلند شمالی آنرا انجام داده بود.

پیترویس افزود، این راهی است که شورش ها را به پایان می رساند.

بر اساس گزارش خبر گذاری اسوشتید پرس، برخی گروه های افغان، بخاطر مذاکره با طالبان مخالفت های دارند و این در حالی است که مساله مذاکرات با این گروه داغتر شده و از سوی دیگر، هزاران عسکر امریکایی و ناتو تلاش دارند تا طالبان را تضعیف کنند.

پاکستان در همسایگی افغانستان و برخی کشور های دیگر در خصوص مذاکرات صلح تلاش دارند تا جای پای برای خود داشته باشند زیرا امکان دارد که این اقدام پایان بازی و جنگ ۹ ساله افغانستان باشد.

خبر گذاری اسوشتید پرس به نقل از وحید عمر سخنگوی رییس جمهور کرزی گزارش داده که آقای کرزی انتظار می کشد تا اعضای شورای عالی صلح اعلان شود و این شورا موضوع مذاکرات با طالبان را مطرح کند.

به گفته وحید عمر احتمال دارد این اقدام در یک هفته صورت گیرد. آقای عمر افزوده که در چند سال گذشته، آنها در سطوح مختلف با طالبانی که تقاضای مذاکرات با حکومت را داشتند، تماس گرفته اند اما به گفته او تا حالا هیچ تماس رسمی از سوی حکومت صورت نگرفته است.

جنرال دیوید پیترویس قوماندان عمومی نیرو های بین المللی در افغانستان ماه گذشته در یک مصاحبه گفته بود که مساله مذاکرات صلح حکومت افغانستان با طالبان، در مراحل ابتدایی قرار دارد.

استرالیایي سرتېري د ولسي ...

تر برید یوه ورځ وروسته په خپره شوې اعلامیه کې د استرالیا د دفاع وزارت ویلي وو چې ګڼې هلته استرالیایي ځواکونو "چاپیز عملیات" کړي، چې له وسلو او لاسي بمونو یې کار پکې اخیستی دی.

داسې تور هم شته، چې دغو پوځیانو د بمبار پرمهال یې پر وسله والو طالبانو بمبار کړی، چې په ترڅ کې یې ولسي وګړي وژل شوي.

تر پلټنو وروسته د استرالیا پوځي څارنوالانو وویل چې دغه کسان د ولسي وګړو په وژنې تورن شوي دي. له دغو تورنو پوځیانو یې دوو ویلي چې د برید پرمهال یې د خپل ځان د ساتنې سختې هڅې کولې.

استرالیا په افغانستان کې د ۲۰۰ ځانګړو ځواکونو په ګډون ۱۵۰۰ سرتېري لري.

د استرالیا شاوخوا ۱۰۰۰ سرتېري د ارزګان ولایت په مرکز ترینکوټ کې مېشت دي.

د تروریزم پرضد جنګ له ...

تجهیز امکان له منځه نه وي تللی جګړه نه شي ختمېدای.

زلمي رسول د دوشنبې په ورځ د ملګروملتو په عمومي اسمبلی کې د وزیرانو کالنۍ غونډې ته وویل چې دا ډلې (تروریستي) خپل عملیات او حملې په سیمه کې پراخوي.

د افغانستان د بهرنیوچارو وزیر همداراز بې له دې چې د کوم هیواد نوم یاد کړي، وویل: تر څو چې ځینې حکومتونه او غیر حکومتي لوبغاړي القاعده او د دې شبکې اړوندو ډلو ته پناه، وسلې او مالي مرستې ور کوي، دوی به په همدې شکل بېرونکې او وژونکې دښمنۍ ته دوام ور کوي.

افغان ځواکونه نورو روزونکو ته اړتیا لري "کالډویل"

آزادی راډیو:

یو لوړ رتبه امریکایي چارواکي چې د افغان سرتېرو د روزنې د چارو مسوول دی وایي هغه به د ایتلاف د هېوادنو له مشرانو وغواړي چې زر تنه اضافي ځانګړي روزونکي د افغان امنیتي ځواکونو د ښې روزنې لپاره ولېږي.

ډګر جنرال ویلیم کالډویل وویل دا روزونکي به د افغان پولیسو او پوځي ځواکونوپه روزنه کې مهم رول ولري څو ورو ورو د راتلونکي دیسمبر څخه نیولی تر مې میاشتې پورې د افغان ځواکو شمېر ډېر شي چې تاکل شوی کرار کرار له نړېوالو ځواکونو امنیتي مسوولت تر لاسه کړي. په نظر کې ده چې د راتلونکي میلادي کال د جولای په میاشت کې له افغانستانه د امریکایي ځواکونو وتل پیل شي.

کالډ ویل امریکایي ورځپاڼې وال سټرېټ ژورنال ته ویلي که موږ هغومره روزونکو ته چې اړتیا لرو تر لاسه یې نه کړو نو د امنیتي چارو د انتقال پروسه به وځنډېږي.

د ډګر جنرال کالدویل په وینا افغانستان یو لک او درې دیرش زره نور پوځي پرسونل او د پولیس افسرو ته اړتیا لري څو وکولای شي چې خپله د امنیتي چارو مسولیت په غاړه واخلي، د افغان امنیتي ځواکونو له لیکو څخه د سرتېرو تښتېدل بله ستونزه ده.

اوس دوه لکه شپږ پنځوس زره تنه د افغان امنیتي ځواکونو په لیکو کې خدمت کوي خو د متحد ایالاتو پلان جوړونکي وایي چې، درې اتیا زره عسکر به تر راتلونکو دیارلس میاشتو پورې د وژنو، د امنیتي ځواکونو د لیکو د پرېښودو او نورو عواملو له امله راکم شي.

کالدویل افغانستان ته د روزونکو پر لیږلو ټینګار کړی څو افغان امنیتي ځواکونه ته مهارتونه ور زده کړي او په دې توګه په ځان متکي افغان امنیتي ځواک رامنځ ته شي.

کالد ویل وایي، په راتلونکو څو میاشتو کې ځانګړي روزنه به له ډېرو ستونزو سره مخامخه وي او په لوړه سطح د تعلیماتو غوښتنه کوي.

هغه وایي له ایتلاف څخه به وغواړي چې د افغانستان هوایي ځواکونه او روغتیایي کار کونکي وروزي او اروپایي ژاندرام د افغان پولیسو څارنه وکړي.